د افغـــــانستان اســـــــلامي امـــــارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چـــارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعات آمريت

لمرى گنه ۲ ورى ۱۴۰۳ : شماره (۱) حمل ۱۴۰۳ لمرى پاڼه - صفحه اول



# اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه

دغه څوکۍ يو لوی مسؤوليت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې يو خدمت گار دی.

## د قطر سفير د مهاجرينو چارو له سرپرست وزير سره وليدل



په کابل کې د قطر سفير ښاغلي سعيد بن مبارک الخيارين د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې وليدل.

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير نومړي ته ښه راغلاست و وايه او د راستنو شويو افغان مهاجرينو د ستونزو او اړتياو په اړه يې ورسره خبرې وکړې او د افغانستان سره د قطر هېواد همېشنۍ همکارۍ او مرستې يې وستايلې او غوښتنه يې وکړه، چې له افغان مهاجرينو سره د گاونډيو هېوادونو له لورې ناسم چلند ښايي په راتلونکي کې د راستنېدنې پروسه نوره هم چټکه کړي، که څه هم د مهاجرينو چارو وزارت د خپل پلان له مخې هڅه کوي ددوی ستونزو ته رسيدگي وکړي خو په دې برخه کې د بشرپاله هېوادونو او په ځانگړي ډول د قطر هېواد مرستو ته هم اړتيا ده

ښاغلي الخيارين د قطر هېواد له لورې له مهاجرينو سره د هر اړخيزو مرستو چمتووالی وښوده او زياته يې کړه، چې دغه غوښتنې به له خپل حکومت سره شريکې او په اړه به يې لازمې هڅې وکړي.

### تمامی پوهنتون های دولتی و خصوصی زمینه آموزش را برای برگشت کننده گان فراهم سازند

نکات فوق را محترم الحاج خلیل الرحمن حقانی، سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در مراسم آغاز سال تعلیمی، سال روان اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی بیان داشت.

وی از تمامی پوهنتون های دولتی و خصوصی خواست تا برگشت کننده گان اجباری را که از کشورهای همسایه طور جبری برگشت داده شده اند و بسیاری از آنان تحصیلات شان نیمه باقی مانده طور رایگان و یا با ارائه تخفیف جذب گردند، و مهاجرین که در سایر کشورها دارای تحصیلات عالی ویا حرفوی هستند با آنان در بخش کاریابی همکاری صورت گیرد.

محترم حقانی در محفل یاد شده با اشاره به ضرورت های علوم عصری گفت، اطفال امروز رهبران فردا و سرنوشت ساز کشور اند، آنان باید با علوم دینی و عصری تربیه شوند .

وی افزود، در ادارات علمی و آموزشی کیفیت تدریس بالا رود تا ضرورت به خارج رفتن محصلین پیدا نگردد.



### په باميان ولايت کې د همغږۍ او همکارۍ ناسته تر سره شوه

د ۱۴۰۳ لمريز کال د کب د مياشتې په ۲۹مه په باميان ولايت کې د دولتي ادارو، ملي او نړيوالو موسسو د استازو ترمنځ له گاونډيو هېوادونو څخه د جبري راستنېدونکو په اړه د همغږۍ او همکارۍ ناسته تر سره شوه.

د باميانو ولايت د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو رييس مولوي فضل عمر اخندزاده د راستنېدونکو او بې ځايه شويو د ستونزو د حل او د اسانتياوو د برابرولو په برخه کې د اړوندو ادارو او همکارو ملي او نړيوالو بنسټونو له دوامداره همکارۍ او همغږۍ څخه مننه وکړه.

هغه په دې ناسته کې د وخت په تېرېدو سره د راستنېدونکو او په زوره ايستل شويو کډوالو ستونزو او اړتياوو ته د ځواب ويلو په موخه په لا زياتې همغږۍ ټينگار وکړ

په دې ناسته کې د راستنېدونکو او داخلي بې ځايه شويو شمېر له گډونوالو سره شريک شو او د مهاجرينو د ښارگوټي جوړولو، د نوملیکنې پروگرام، بايومتريک او خپلو مېنو ته د مهاجرينو د لېږد په اړه پريکړه وشوه.



### در بندر غلام‌خان ولایت خوست برای عودت کننده‌گان اجباری سهولت های لازم آماده می‌گردد

مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان و رئیس کمیته اسکان موقت همراه با اعضای کمیته و مسؤولین ولایت خوست، پیرامون حل مشکلات، چالش‌ها، ایجاد سهولت های لازم برای مهاجرین از نقطه صفری مرز غلام‌خان ولسوالی گربز ولایت خوست باز دید نمودند.

رئیس کمیته اسکان موقت ضمن بازدید از دو ساحه در نزدیک مرزغلام خان برای ایجاد کمپ موقت، با ولسوال و مسؤولین ولسوالی گربز دیدار نموده، از آنان مشکلات، پیشنهادات و معلومات بازگشت کننده گان را استماع نمودند.

این هیأت ضمن حل مشکلات و رسیدگی به پیشنهادات مسؤولین بر تعهد و رسیدگی بهتر برای تمام امورات عاجل بشری به آنان سپردند.



اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت



## د حج د فریضي په موخه په مهاجرینو وزارت کې د پچه اچونې مراسم ترسره شول




په ایران، پاکستان او نورو لوېدیځو هېوادونو کې مېشتو هغه ۶۰۰ کډوالو ترمنځ چې د حج د فریضې د ادا کولو لپاره یې نوملیکنه کړې وه، د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د کانفرانسونو تالار کې د اړوندو برخو د استازو په شتون کې د پچې اچونې مراسم ترسره شول. دغه پچه اچونه د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني، مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي، مرکزي رئیسانو او د چارو اداري د استازو په شتون کې د وزارت د کنفرانسونو په تالار کې ترسره شوه.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د موضوع اړوند خبرې وکړې او له سکتوري ادارو، د حج او اوقافو له وزارت څخه یې وغوښتل چې د حاجیانو د پاسپورټونو او تذکرو د ترلاسه کولو په برخه کې لازمه همکاري وکړي. هغه زیاته کړه: هیله لرو چې د سعودي عربستان له خوا د زیاتې ونډې په تر لاسه کولو سره به د مهاجرینو برخه هم زیاته شي، ترڅو هغه مهاجرین چې کلونه کلونه له دې فریضې څخه بې برخې دي خپل ارمان پوره او د حج د فریضې د ادا کولو وړ وګرځي. دغه راز غونډې ته د وزارت مالي مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي وویل: نن موږ د یوې لویې غونډې شاهدان، یو چې په هغه کې د داسې الهي فریضې د قره کشۍ مراسم کېږي چې پر مسلمانانو فرض شوې ده، په تیرو څلورو لسیزو کې افغان مهاجرین له دې فریضې څخه یې برخې وو، خو د اسلامي امارت له راتګ سره دا دریم کال دی، چې د مهاجرینو ونډه ځانګړې کېږي او زمینه ورته برابره شوې ده. دغه راز ښاغلي خروټي د حج او اوقافو له وزارت څخه د مهاجرینو د شمېر په پام کې نیولو سره د افغان مهاجرینو لپاره د حج د سهیمې د زیاتوالي غوښتنه څرګنده کړه.

ورپسې د مرستو د همغږۍ رییس شیخ عبدالرحمن رحماني هم په دې اړه وینا وکړه او ویې ویل: حج ته تلل نیکمرغي ده او خدای تعالی دې موږ ته دا وس راکړي، چې د خدای کور ته د تلونکو مهاجرینو ربښتیانی خدمت وکړو. د ثبت شویو کسانو له جملې څخه له پچه اچونې وروسته، ۲۷۰ تنه په ایران، ۳۰۰ تنه په پاکستان او ۳۰ تنه د نورو لویدیځو هیوادونو مېشتو مهاجرینو اسناد د نورو پړاوونو لپاره حج او اوقافو وزارت ته معرفي کېږي.



## ۹ تنه افغان بندیان د پاکستان له مختلفو زندانو ازاد شول

د پاکستان خیبر پښتونخواه له مختلفو زندانونو ۹ تنه افغان بندیان ازاد او د وري د میاشتې په نهمه او لسمه نېټه خپل هېواد ته راستانه شول.
د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې دغه کسان د اسنادو د نشتوالي له امله له تېرو درېو میاشتو راهیسې په بند کې وو، چې له ازادېدو وروسته د تورخم فرضي کرښې له لارې خپل هېواد ته راستانه او د مرستو د لاسته راوړلو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول



## معین مسلکی به سلسله سفرهایش، به ولایت پکتیکا سفر نمود

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و رئیس کمیته اسکان موقت همراه با اعضای کمیته مذکور به ولایت پکتیکا سفر نمود.
آقای راشد با مسؤولین کمیته اسکان ولایتی آن ولایت دیدار داشته و طرزالعمل کاری کمیته را به اعضای آن تشریح نمود.
مولوی حمدالله فاتح رئیس امور مهاجرین ولایت پکتیکا که در عین حال رئیس کمیته اسکان ولایتی نیز می‌باشد ازکار کرد اش به معین مسلکی معلومات را شریک نموده و اضافه نمودند که در آینده مشترکا به مشکلات اسکان موقت در آن ولایت رسیده گی خواهند نمود.
هیأت در اخیر با مولوی مخدوم عبدالسلام سعادت معاون والی نیز نشست نموده و پیرامون موضوع بحث نمودند.
معاون والی و رئیس امور مهاجرین آن ولایت از سفر اعضای کمیته اسکان موقت در آن ولایت قدردانی کردند.



اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو په وزارت کې د چین د بورسیې رقابتي ازموینه واخیستل شوه



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د کانفرانسونو په تالار کې د وزارت ۲۸ تنو کارکوونکو تر منځ د چین د بورسیې لپاره رقابتي ازموینه واخیستل شوه.
د وزارت د بشري سرچینو رییس مفتي مدیر گل احمدي د دې ازموینې د څارنې پر مهال پر پوره روښتیا تینگار وکړ او ویې ویل، د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې ور، با استعداده، ژمن او رښتیني کسان د خلکو د خدمت لپاره غوره کړي، چې د دې اداري لپاره په راتلونکي کې ښې لاسته راوړنه ولري.
د دې ازموینې له گډون کوونکو څخه به ۸ تنه چې لوړې نومرې ترلاسه کړي، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون ته ور وپېژندل شي.
تاکل شوې ده چې د چین د بهرنیو مرستو او تجهیزاتو په اړه به دوه اونیز ښوونیز سیمینار ډېر ژر په چین کې جوړ شي.

# سرپرست وزارت، با معاون کاردار سفارت پاکستان دیدار نمود



مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وسرپرست وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، با آقای جنید وزیری، معاون کاردارسفارت پاکستان وهیات همراه باوی، دردفتر کارش دیدار نمود.
دراین دیداردرمورد مشکلات مهاجرین افغان درپاکستان، تسهیلات سفر آنها درخصوص ویزا و سایر تسهیلات برای مهاجرین افغان که امسال به حج مشرف شده اند، بحث و تبادل نظر شد.
معین مسلکی و سرپرست وزارت گفت: موضوع مهاجرین یک موضوع دوجانبه است وباید با تفاهم هردو کشوردرمورد، تصمیم گیری شود و تا زمانی که میکانیزم مشترکی ایجاد نشود نباید آنها را مورد آزار و اذیت قرار داد.
وی همچنین خواستارهمکاری پاکستان درزمینه ورود و بازگشت زائران افغان شد.
معاون کاردار سفارت پاکستان از آمادگی خود برای ارائه تسهیلات سفر حجاج افغان اطمینان داده افزود: مهلت نهایی براي تخلیه مهاجرین هنوز تعیین نشده است، اگرچه تنها تصمیم گرفته شده است تا ارقام ومعلومات جمع آوری شود.
وی گفت: این موضوع را با اسلام آباد درمیان می گذاریم وطبق دستورآنها اقداماتی را انجام خواهیم داد.

## پاکستان څخه تر ۳۰۰ زیاتې جبري راستنې شوې کورنۍ د کمېټو له خدمتونو برخمنې شوې

۳۶۰ جبري راستنې شوې کورنۍ د هېواد په فرضي کرښو کې د گومارل شوو کمېټو له خدمتونو برخمنې شوې.

د جبري راستنېدونکو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون د گومارل شوو کمېټو د معلوماتو له مخې، د ننگرهار، کندهار، نیمروز او هرات ولایتونو له فرضي کرښو څخه ۱٦۱ کورنۍ، چې ۵٦۳ جبري راستنېدونکي پکې شامل وو، د وري پر ٦ مه نېټه د پاکستان هېواد څخه راستنې او په بایومتریک ډول ثبت او ورسره مرسته وشوه.

۲ کورنۍ چې ۱٦ تنه وو خپلو اصلي ځایونو ته ولېږدول شول، ۷٦ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه، ۷۴کورنۍ په موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې، ۲۰٦ سیمکارتونه، د خوراکي توکو تیارې شوې کڅوړې، د څښلو وړ اوبه او د ژمنیو توکو کڅوړې په یادو فرضي کرښو کې د گومارل شوو کمېټو له لوري ووېشل شوې.

همدا رنگه دغو کورنیو ته د اطلاعاتو ، امربالمعروف او نهی عن المنکر کمېټو لخوا د نوم لیکنې، لېږد، مالي مرستو، د لنډ مهاله استوگنې او د هېواد پېژندنې، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه گټور معلومات وړاندې شول.

لسگونه هغه کسان چې مسلکي او حرفوي اسناد یې درلودل وپېژندل شول او ۹۱ راستنیدونکو ماشومانو ته له چاودیدونکو توکو څخه د ساتنې، نظافت او عمومي پوهاوي په اړه معلومات ورکړل شول او د رواني روغتیا په موخه د لوبو زمینه هم ورته برابره شوه.

## بیش از یک هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند خانواده، کمک شد ند

۱۷۱۴ تن مهاجرین مقیم ایران از طریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.
به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکور که شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۴۷۳ نفر ایشان نیازمند شناسایی و غرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر عذایی را دریافت کردند.
۱۰۵ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی، برای ۴۹خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی، برای ۹۱ تن سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.
و تعداد ۲۹۵ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.

## بیش از ۸ هزار خانواده، در ۱۷ ولایت کمک شدند

درجریان یک هفته ۸ هزارو ۱۸۱ خانواده بیجاشده وبرگشت کننده در ولایات قندهار، هرات، ننگرهار کندز، میدان وردک، بادغیس، بلخ، تخار، لغمان، جوزجان، بامیان، پکتیکا، کابل، فراه، بغلان، غزنی و سمنگان ازطریق واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.
برای خانواده های مذکورکه بیجاشده بودند وهمچنان برای عده ای ازخانواده های بی بضاعت و نیازمند ادارات امور مهاجرین و عودت کنندگان ولایا ت با همکاری شماری از سازمان‌های مددرسانی بین المللی ، بسته‌های مساعدتی را که شامل مواد غذایی، پول نقد، بسته های صحی، وسایل آشپزخانه، منزل، خیمه و ترپال بود توزیع نمودند.



## د مهاجرینو وزارت سرپرست وزیر د ریاست الوزراء له اداري مرستیال سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ریاست الوزراء له اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي سره د هغه د کار په دفتر کې ولیدل. په دې لیدنه کې د وزارت سرپرست وزیر د مهاجرینو لپاره د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسون خدمتونه وسایل او د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزې یې شریکې کړې.
نوموړي د پسرلي په راتگ سره د نویو راستنو شویو مهاجرینو لپاره پر چمتووالي او د دوی د استوگنې لپاره د ځمکو د وېش د څرنگوالي په اړه هم خبرې وکړې.
د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د راستنېدونکو مهاجرینو د ستونزو په اړه د سرپرست وزیر په ځواب کې وویل: موږ د راستنو شویو مهاجرینو د استوگنې او د تازه راستنېدونکو مهاجرینو د تیارې موضوع له عالیقدر امیر المؤمنین سره شریکه کړې ده او دغه راز یې د وزارت سرپرست ته د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې په برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## لسگونه مهاجرین په جبري توگه له پاکستان څخه راستانه شول

۹٦ تنه افغان مهاجرین د تورخم له فرضي کرښې څخه هېواد ته راستانه شول.
د ننگرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، ۱۹ کورنۍ چې ۹۲تنه کېږي او ۴ تنه نور په جبري توگه له پاکستان څخه راستانه او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو د لاسته راوړلو په موخه د ملگرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شول